## دافغانســــتان اســـــلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

### د ارشاد او دعوت آمریت

### د خطبو عمومي مدیریت

دجمعې دخطبې لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۳/۵/۱۲هجری قمري مطابق۱۴۰۰/۹/۲۶هجري شمسي

# د منکراتو مخنیوي د هر مسلمان مسئولیت دي

الحمدلله الذي حرم الفواحش ما ظهر منها وما بطن وحذر من قربانها والأسباب الموصلة إليها رحمةً بعباده وصيانةً لهم عما يضرهم فی دينهم ودنياهم .احمده وأشكره على إحسانه و لطفه وإمتنانه ، وأشهد أن لآإلـه إلاالله وحده لاشريک لـه، وأشهد أن محمداعبده ورسوله، لاخير إلا دل الأمة عليه ولاشر إلا حذرها منه صلى الله عليه وسلم وبعد:

د منکراتو مخنیوی په اسلام کې د خورا مهمو او ضروري موضوعاتو څخه دی او د شرعي دندو څخه حسابیږي ، لکه د لمانځه په څیر یو داسې مسئولیت دی چې الله تعالی یې په اړه اسلامي امت ته داسې امر کړی دی:{ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ}الحج: (٤١)

**ترجمه:** (مرسته شوي) هغه کسان دي چې که چیرې مونږ دوی ته په ځمکه کې تمکین (حکومت او سلطه) ورکړو قائموي به لمونځونه او ورکوي به زکاتونه او امر به په نیکی کوي او له منکراتو به مخنیوی کوي او خاص الله تعالی ته دی عاقبت دټولو کارونو.

دمنکراتو مخنیوی د ټولو مسلمانانو مشترک مسئولیت دی؛ اګرچه اسلامي دولت په دې اړه خپل مسئولیت لري او د خوښۍ ځای د چې دافغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې مستقل وزارت او پراخه تشکیل لري؛ خو په اسلامي شریعت کې د منکراتو مخنیوی د هر مسلمان مسئولیت دی.

الله تعالی د منکراتو دمخنیو ی په اړه فرمایلي دي:{وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ}آل عمران:(١٠٤)

**ترجمه:** او باید چې وي په تاسو کې یوه داسې ډله چې خلک به نیکیو ته را بولي او له منکراتو څخه به مخنیوی کوي او هم دوی کامیاب دي.

همدا راز ددې امت فضیلت له دې امله د نورو امتونو په پرتله زیات دی چې د نورو امتونو په نسبت یې مسئولیت خطرناک او درونډ دی چې هغه په نیکیو امر او منکراتو څخه مخنیوی دی.

الله تعالی فرمایلي دي:{كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ}آل عمران:(١١٠)

**ترجمه:**یاست تاسو غوره امت یاست چې ایستل شوي یاستی دخلکو لپاره چې امر به کوئ په نیکۍ سره او له منکراتو به مخنیوی کوئ.

د منکراتو مخنیوي نه کول؛ چې یوه ډیره مهمه او اساسي دنده ده، دالله تعالی د لعنت سبب ګرځي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ . كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ } المائده:(٧٨-٧٩)

**ترجمه:** لعنتیان گرځیدلي دي هغه کسان چې په بني اسرائیلوکي کافران ؤ په ژبه د داؤد –علیه السلام- او په ژبه دعیسی –علیه السلا- دا ځکه چې دوی نافرماني کړی وه ( دالله تعالی له امر څخه) او له حد څخه یې تجاوز کړی ؤ. ددوی د لعنت سبب دا ؤ چې له منکراتو څخه به یې مخنیوی نه کولو او منکرات به یې کول، ډیر بد دی هغه کار چې دوی به کولو.

همدا راز په یو حدیث شریف کې داسې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِى إِسْرَائِيلَ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ فَيَقُولُ يَا هَذَا اتَّقِ اللَّهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ فَإِنَّهُ لاَ يَحِلُّ لَكَ ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ فَلاَ يَمْنَعُهُ ذَلِكَ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَقَعِيدَهُ فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلِكَ ضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ ». ثُمَّ قَالَ (لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) إِلَى قَوْلِهِ (فَاسِقُونَ) ثُمَّ قَالَ « كَلاَّ وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَىِ الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا ».وفى رواية « أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ ».(سنن ابی داود، سنن ابن ماجه)
**ترجمه:** د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه لومړنی هغه څه چې په بنی اسرائیلو کې د نقصان د واقع کیدو باعث شو هغه دا ؤ چې یوه ورځ به یو شخص د بل شخص سره مخامخ شو [چې هغه به په ګناه کې اخته ؤ] ورته به یې وویل: له الله تعالی وویریږه او دا څه چې کوی دا پریږده؛ ځکه دا درته حلال نه دي. بله ورځ به چې ورسره مخامخ شو هغه به یې له ګناه څخه نه منع کولو؛ دا له دې امله چې له هغه ګناهکارسره به یې خوراک ، څښاک او ناسته شوه، هرکله چې هغوی دمنکر مخنیوی یې پریښود، الله تعالی ددوی زړونه سره یو په بل ووهل یعنی زړونه یې په ګناه کې یوشان شو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت کړ:(لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) إِلَى قَوْلِهِ (فَاسِقُونَ) پوری، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خبردار! خامخا تاسو به په نیکی سره امر کوئ او له منکراتو به مخنیوی کوئ او د ظالم لاسونه به له ظلم څخه نیسئ او هغه به حق ته راګرځوئ او هغه به په حق باندې دروئ. (هغه څوک چې منکرات کوي هغه ظالم ګڼل کیږي).
په یو بل روایت کې راځي: که داسې ونه کړئ؛ نو الله تعالی به ووهي زړونه ستاسو یو د بل دپاسه یعني الله تعالی وبه ګرځوي زړونه ستاسو یوشان ګناهګار او داسې لعنت به درباندې وکړي؛ لکه څرنګه چې یې په بني اسرائیل لعنت کړی ؤ.

عن عَدِيٍّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ حَتَّى يَرَوْا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ وَهُمْ قَادِرُونَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوهُ فَلَا يُنْكِرُوهُ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَذَّبَ اللَّهُ الْخَاصَّةَ وَالْعَامَّةَ) مسند أحمد -

**ترجمه:** عدي رضی الله عنه فرمایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: الله تعالی د خاصو خلکو په بدو اعمالو باندې عامو خلکوته ترهغې عذاب نه ورکوي؛ ترڅو چې منکرات په خپلو منځو کې ښکاره وه ویني او دوی یې په مخنیوي باندې قدرت لري؛ مګر مخنیوی یې ونه کړي کله چې دوی داسې وکړي بیا الله خاصو او عامو ټولو ته عذاب ورکوي.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: (مَثَلُ الْمُدَاهِنِ فِي حُدُودِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّونَ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ (الَّذِي) فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ (يَدِهِ) أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ). صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة (ص: ٤٠٣)
**ترجمه:** د الله تعالی په حقوقو کې د مداهن او د الله تعالی له حقوقو څخه د دفاع کونکي مثال د هغه قوم دی چې په کشتی کې هر چاته ځای ورسیږي ځینو ته یې لاندینی حصه ورسیږي او ځینو نورو ته یې د کشتی پاسنی حصه ورسیږي خو هغه کسان چې دکشتی په لاندې حصه کې دي د اوبو د ترلاسه کولو لپاره دکشتی د پاسنی برخې پرخلکو

تیریږي او دوی ته له دې امله تکلیف رسیږي، د لاندې حصې له خلکو څخه یو شخص تیشه را واخلي او شروع وکړي د کشتی په سوري کولو باندې کله چې دوی ورته راشي او ورته ووايي چې دا څه کوی؟ هغه ورته ووايي: تاسو زما د تیریدو له امله په تکلیف کې وی او زه باید اوبه ترلاسه کړم ( او دا ځای سوری کړم)، که چیرې د کشتی خلک دده لاسونه ونیسي ده ته به هم نجات ورکړي او خپلو ځانونو ته به هم نجات ورکړي او که چیرې دا شخص پریږدي ( کشتی سوری کړي) دا شخص به هم هلاک کړي او خپل ځانونه به هم هلاک کړي.

بناءً مونږ مسلمانان دمنکراتو په وړاندې باید بې تفاوته پاتې نه شو؛ ولو که د منکر په لمنځه وړلو کې هغه وخت برلاسي هم نشو؛ ولی د منکر ازاله په هره ممکنه وسیله او طریقه باید وکړو؛ لکه چې پیغمبرعلیه السلام چې داسلام په ابتداء کې خلک یې له شرک څخه چې تر ټولو ستر منکر دی منع کول او خلک یې دتوحید عقیدې ته رابلل؛ خو کله چې داسلام دین قوت وموند بیا یې دمنکراتو سره په عملي مبارزه امر وکړ او منکرات به یې له منځه وړل.

دمنکراتو مخنیوی داسلامي دولت داساسي وظائفو څخه ده، خو دا دنده او مسئولیت هر مسلمان هم لري.

الله تعالی فرمایلي دي: { الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ }الحج: (٤١)

**ترجمه:** دوی هغه کسان ( چې مرسته ورسره شوی ده ) دي چې که چیرې مونږ دوی ته په زمکه کې تمکین (حکومت او سلطه) ورکړو قائموي به لمونځونه او ورکوي به زکاتونه او امر به په نیکی کوئ او له منکراتو به مخنیوی کوئ او خاص الله تعالی دی عاقبت دټولو کارونو.

د منکراتو دمخنیوي په اړه پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: (من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذلك اضعف الايمان) رواه مسلم.

**ترجمه:** څوک چې ویني له تاسو څخه منکر باید چې دلاس په وسیله هغه له منځه یوسئ، که چیرې ددې توان نه لري، په ژبه دې له منځه یوسئ، که چیرې ددې توان نه لري په زړه دې ورسره کرکه وکړي او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی.

پورتنیو دلائلو ته په کتو، د منکراتو مخنیوي په لومړي قدم کې داسلامي دولت دنده ده چې د خپل قوت او قدرت په وسیلې سره د منکراتو مخنیوی وکړي ؛ چې -لله الحمد-دافغانستان اسلامي امارت په برخه کې د( امربالمعروف او نهی عن المنکر) مستقل وزارت رامنځ ته کړی دی. په دوهم قدم کې دعلماؤ دنده ده چې دقرآن او حدیث په روښنايي کې دمنکراتو دمخنیوي لپاره خپل دعوت او تبلیغ ته ادامه ورکړي. په دریم قدم کې د هرمسلمان ایماني دنده ده چې دخپل توان په اساس د منکراتو مخنیوی وکړي.

**د منکراتو مخنیوي نه کول او یا هم په دې اړه کم کاري کول دالله تعالی د لعنت لامل ګرځي:**

د منکراتو مخنیوی نه کول او یا هم په دې برخه کې کم کاري کول د الله تعالی د لعنت او قهر سبب ګرځي. لکه څرنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې دهغه قوم مذمت بیان کړی دی چې د منکراتو مخنیوی به یې نه کاوه.

الله تعالی فرمایلي دي: { كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ }المائده: (٧٩)

**ترجمه:**(ددی دلعنت سبب داؤ چې ) دوی به دمنکراتو مخنیوی نه کولو او خپله به هم منکرات کول، خامخا ډیر بد دی هغه کار چې دوی به کولو.

په ټولنه کې د منکراتو او ګناهونو ترسره کول دالله تعالی دعذاب باعث ګرځي. الله تعالی فرمایلي دي: { وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ } الانفال:(٢٥)

**ترجمه:** او وویریږئ د الله تعالی د داسې عذاب څخه چې یواځې به تاسو کې هغه کسانو ته نه رسیږي چې ظالمان دي( بلکې د الله تعالی عذاب به عام وي)او پوهه شئ ، بیشکه الله تعالی دسخت عذاب خاوند دی.

د منکراتو دمخنیوي نه کولو په اړه په هغه روایت کې چې حذیفه رضي الله عنه روایت کړی دی ، پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي:( وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْ عِنْدِهِ ثُمَّ لَتَدْعُنَّهُ فَلَا يَسْتَجِيبُ لَكُمْ) مسند احمد.

**ترجمه:** قسم په هغه ذات چې زما نفس دهغه په واک کې دی، چې تاسو به یا امر په معروف کوئ او له منکراتو به مخنیوی کوئ او یا دا چې نږدې دی الله تعالی درباندې داسې عذاب نازل کړي چې بیا به تاسو دعاء کوی خو نه به قبلیږي ( اوعذاب به په دعا سره نه وروسته کیږي)

فقهاء کرامو دمنکراتو دمخنیوي په اړه فرمایلي دي:( د امربالمعروف او نهی عن المنکر، ترک کونکی دلمونځ پریښودونکي په شان دی او په نیکی باندې امر کول لکه دلمونځ د ادا کولو په څیر دي، لکه څرنګه چې د لمونځ پریښودل جواز نلري همدا شان په نیکی باندې امر نه کول او له منکراتو څخه مخنیوی، نه کول هم جواز نه لري).

[نصاب في الاحتساب صفحه: ۲۰۸، دعلامه سنامی حنفی کتاب]

د قرآن کریم د آیاتونو، د پیغمبرعلیه السلام د آحادیثو او د فقهاؤ له اقوالو څخه داسې معلومیږي چې هرکله په اسلامي ټولنه کې منکرات او ګناهونه زیاتیږي، د ټولنې ټول وګړي پرته له استثناء عالم او غیرعالم ، ښځې او سړي، زوړ او ځوان ټول ایماني مسئولیت لري چې د اصلاح په هدف او د منکراتو او ګناهونو د مخنیوي په موخه رپاڅیږی او خپل ایماني مسئولیت ترسره کړي او دمنکراتو مخنیوی وکړي.

**د منکراتو ځینې بیلګې:**

منکرات ډیر ډولونه او برخې لري چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

**۱ـفحشاء؛**

د منکراتو له جملې څخه یو یې فحشاء ده چې په اسلامي ټولنو کې یې پرخوالی موندلی دی او په مختلف اشکالو سره د خلکو په منځ کې رائج شوی ده؛ لکه : زنا، د مبتذلو فیلمونو کتل، په ټولنیزو رسنیو کې لوڅ آنځورونه او ویډیو ګانې .

دا ډول منکرات علاوه د اخروي عذاب څخه په دنیا هم د الله تعالی دعذاب سبب ګرځي. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :( لَمْ تَظْهَرْ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيهِمْ الطَّاعُونُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمْ الَّذِينَ مَضَوْا) سنن ابن ماجه (۱۲/ ۲۵)

**ترجمه:** فحشاء په هیڅ قوم کې هیڅکله نه را څرګندیږي؛ مګر خپریږي په هغه قوم کې طاعون او داسې مرضونه چې د هغوی په اسلافو کې به نه وي تیر شوي.

**۲ـشراب، قمار او دمخدراتو استعمال؛**

د هغه منکراتو له جملې څخه چې ځوانانو ورته مخه کړی ده او دشیطان په دام کې پریوتي دي او د اکثرو کورنیو نظام یې له منځه وړی دی او دشیطاني اعمالو څخه شمیرل کیږي ، د شرابو او الکولي موادو څښل دي او دنشه ئي توکو استعمال دی. الله تعالی فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} المائده(۹۰)

**ترجمه:** ای مؤمنانو! شراب ، قمار بتان او بخت ازمائي او فال غشي ګندګي ده او شیطان عمل دی ځانونه ورڅخه وژغورئ.

**۳-سود (ربا)؛**سود خوړل دمنکراتو او محرماتو له بدترینو انواعو څخه ده چې اکثره خلک ورباندې په مختلفو شکلونو لتاړ دي. الله تعالی فرمايلي دي: { فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ} البقره:۲۷۹)

که چیرې دا کار (سود) مو پرینښودلو پس تیار کړئ ځانونه د الله تعالی له طرفه جنګ ته او دهغه د رسول له خوا جنګ ته او که چیرې توبه مو وایستله، بیا شته دی ستاسو لپاره ستاسو اصل مال، تاسو هم ظلم مه کوئ او پرتاسو به هم ظلم ونه شي.

**۴-صالحانو اوعلماؤ او صالحانو توهين؛**

علماء د پیغمبرانو وارثان او هغه طبيبان دي چې د خلکو نفسياتي ، روحي او قلبي مرضونه د قرآن کريم او دپيغمبرعليه السلام د آحاديث په رڼا کې معالجه کوي او له الله تعالی څخه ویریږی. الله تعالی فرمايلي دي:

{إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ }فاطر:(۲۸)

**ترجمه:** بیسکه د الله تعالی له بندګانو څخه علماء له الله تعالی ویریږي، بیشکه الله تعالی غالبه او ښنونکی دی.

په بل آيت شريف کې راځي:{قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ}الزمر: (۹)

**ترجمه:** ووايه ای پيغمبره! آيا برابردي هغه کسان چې پوهيږي او هغه کسان چې نه پوهيږي؟ بيشکه پند اخلي خاوندان دعقل.

علماؤ ته د بې دينه خطاب کول او دهغوی توهين او تحقيرول له منکراتو څخه دي.

حافظ ابن عساکررحمه الله فرمايلي دي:(لحوم العلماء مسمومة) دعلماؤ غوښې مسمومه دي لکه څرنګه چې يو انسان مسموم شوی غوښه وخوري مړ کيږي همدغه شان څوک چې د علماؤ توهين او تحقير کوي هلاک کيږي.

الله تعالی فرمايلي دي:{ وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ}ص: (۶۲)

**ترجمه:** او دوزخيان به ووايي: ولی مونږ نه وينو دوزخ کې هغه کسان چې دنيا کې به مونږ هغوی اشرار بلل.

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**